**د افغانستان اسلامي امارت**


**د پوهنې وزارت**

**د کیفیت د تضمین معینیت**

**د څارنې او ارزونې ریاست**

**د راپور ورکولو او همغږۍ آمریت**

# د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان د پرمختګ او لاسته راوړلو لنډ راپور




راپور ورکولو دوره: (تله – لېندۍ) کال ۱٤٠٤

## د مطالبو لړلیک

**د پوهنې وزارت په هکله لنډ معلومات** ........................................................................ ۱

**سریزه** ..................................................................................................... ۱

د پروګرامونو او عنصرونو پر بنسټ د کړنو او لاسته راوړنو د پرمختګ لنډیز ............................................. ۳

مالي راپور ............................................................................................... ۲۱

## د پوهنې وزارت په هکله لنډ معلومات

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمدلله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:

د پوهنې وزارت د افغانستان د اسلامي امارت یو له مهمو ادارو څخه شمېرل کیږي چې د اسلامي شریعت او په هېواد کې د نافذه قوانینو سره سم د هېواد د ښوونیز نظام د عمومي پالیسیو د طرحې او پلي کولو او د ښوونې او روزنې مسولیت پرغاړه لري. د اجباري اساسي او ثانوي زده کړو، تر څوارلسم ټولګي پورې د اسلامي زده کړو او د سواد زده کړو لپاره د ښوونې او روزنې زمینې برابرول، د اسلام د مقدس دین د احکامو، ملي کلتور او علمي اصولو پر بنسټ د یو واحد ښوونیز نصاب چمتوکول، تالیف او پلي کول، په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره د آغېزمنو پروګرامونو طرحه او پلي کول، د کوچیانو په شمول د ټولنې د ټولو وګړو له پاره د ښوونې او روزنې زمینې برابرول، د غوره ښوونیزو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه، د ښوونکو او اداري کارکوونکو مسلکي ظرفیت لوړونه او همدارنګه په هېواد کې د دولتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو او ادارو پراختیا، څارنه او ملاتړ د دې وزارت له اصلي دندو څخه شمېرل کېږي.
د پوهنې وزارت د منظور شوي تشکیل له مخې، د وزارت د مقام ترڅنګ لاندې ریاستونو سربېره چې د دفتر لوې ریاست، د داخلي پلټنې ریاست، د پلان او پالیسۍ ریاست، د دعوت او ارشاد ریاست، د بهرنیو اړیکو او تمویلونکو ریاست او د ولایتي چارو د انسجام ریاست پکې شامل دي، د څلورو پروګرامونو/معینیتونو لرونکی دی چې عبارت دي له: د ښوونې او روزنې معینیت، د اسلامي زده کړو معینیت، د تضمین کیفیت معینیت او مالي او اداري معینیت څخه. دا وزارت د منظور شوي تشکیل سره سم ۳۲ مرکزي ریاستونه، ۳۴ د پوهنې ولایتي ریاستونه او د کابل ښار د پوهنې ریاست درلودونکی دی.

په ټولیزه توګه، د پوهنې وزارت په خپل تشکیل کې (۳۳۲،۳۱۱) بستونه لري، چې له دې جملې څخه (۲۷٦،۳۴٦) د ښوونکو بستونه، (۱۴،۲۱۴) د اداري کارکوونکو بستونه او (۴۱،۷۵۱)د خدماتي/اجیر کارکوونکو اووم او اتم بستونه دي.
د څارنې او ارزونې ریاست، د تضمین کیفیت معینیت یو له مهمو او کلیدي ریاستونو څخه دی، چې د پوهنې وزارت د عملیاتي پلانونو، پروګرامونو او پروژو د غوره او آغېزمن تطبیق او پرمختګ څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو مسؤلیت پرغاړه لري. د څارنې او ارزونې ریاست د راپور ورکولو آمریت د اړونده پالیسۍ او کړنلارې سره سم، دنده لري ترڅو د پوهنې وزارت د عملیاتي پلانونو، پروګرامونو او پروژو د تطبیق او پرمختګ راپورونه د مرکزي او ولایتي ریاستونو څخه راټول، مرور، توحید او چمتو کړي او د پوهنې وزارت رهبرۍ ته یې وړاندې کړي. همدارنګه ځانګړې راپورونه د اړونده ادارو د غوښتنو او معلوماتي اړتیاوو سره سم د راپور ورکولو په ځانګړو فارمټونو کې ترتیبوي او د اداري د سلسله مراتبو په پام کې نیولو سره یې اړونده ادارو سره د وروستیو کړنو په موخه شریکوي.

## سریزه

د پوهنې وزارت پلان شوو موخو او پایلو ته د ښه رسېدو په موخه، خپل عملیاتي پلانونه یې په ملي، ولایتي او د ولسوالیو په کچه د اووګونوعنصرونو پربنسټ (زده کونکی/ طالب العلم/لیک لوست زده کوونکی، ښوونکی/استاد/مدرس، ښوونیزنصاب،

ښوونیزه ارزونه، ښوونیز چاپیریال، د ټولنې ګډون او مدیریت) د اړتیاوو او لومړیتوبونو سره سم چمتو کړي دي. د ۱۴۰۴ کال په عملیاتي پلان کې هغه اړین لومړیتوبونه او اهداف چې باید ترلاسه شي شامل شویدي او د پلي کېدو په موخه د ټولومرکزي او ولایتي ریاستونو او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مسؤلینو سره شریک شوي دي.

لکه څرنګه چې راپور ورکول او راپور اخېستل د مدیریت یو مهم اصل دی، چې پر بنسټ یې له یوې خوا روڼتیا او حساب ورکول رامنځته کېږي چې تمویلونکو او د پروګرامونو پلي کونکو لپاره مهم او اړین ګڼل کیږي، له بلې خوا په بېلابېلو کچو کې مدیران او مسؤلین د  پلانونو د تطبیق د څرنګوالي او پرمختګ څخه لازم معلومات ترلاسه کوي، همدارنګه د هغو ستونزو او ننګونو د پېژندلو او حل لپاره اړین او پر وخت لازم ګامونه پورته کوي چې د پلانونو او پروګرامونو د تطبیق او پرمختګ د خنډ او ځنډ لامل ګرځي.

د څارنې او ارزونې ریاست د راپور ورکولو او همغږۍ آمریت تل هڅه کوي تر څود پوهنې وزارت د پلانونو او پروګرامونو د پلي کېدو او پرمختګ په اړه میاشتني، ربعوار او کلني راپورونه چمتو، مرور او توحید کړي او له بشپړېدو او تایید وروسته یې د اړونده ادارو له مسؤولینو سره شریک کړي،  ترڅو په بېلابېلو کچو کې د پوهنې وزارت ادارې د پرمختګونو، لاسته راوړنو، ننګوونو، څواکمنتیا او کمزورتیا له نقطو څخه باخبره او د هغې څخه په ګټې اخېستنې سره خپل راتلونکي پلانونه او پروګرامونه په غوره او آغېزمنه توګه طرحه او تطبیق کړي.

د دې ربعوار راپور د چمتو کولو اصلي موخه د ۱۴۰۴ کال د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ د څرنګوالي څخه ډاډ ترلاسه کول او د پوهنې وزارت د لاسته راوړنو تشریح کول دي، چې د پورته یاد شوو اوو عنصرونو پربنسټ د ټولو پروګرامونو په کچه چمتو او د پوهنې محترم مقام او اړونده شاملو ادارو ته وړاندې کېږي، ترڅو پدې توګه د پوهنې وزارت د مشرتابه، اړونده مسؤلینو، کاري شریکانو او مرستندویه ادارو معلوماتي اړتیا پوره شي.

## ۱. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/لیک لوست زده کوونکی

### ۱.۱ اسلامي زده کړې

- د ثانويه او مافوق ثانويه دورو د طالب‌العلمان د ازموينو د اخېستلو په موخه، ټولټال ۳۷،۵۲۰ فورمې د ثانوي دورې او ۲۱،۶۸۸ فورمې د مافوق ثانوي دورې د ازمويني فورمې ډکې شوي او د ډيټابيس په سيستم کې ثبت شوي دي. يادوني وړ ده چې دغه ازموينه به د ۱٤۰٤ مالي کال د جدي مياشتې په شپږمه نېټه، په ټول هېواد کې هممهاله تر سره شي.
- د درېيمې ربعې په اوږدو کې د حفظ او خامسه دورو د فراغت ټولټال ۱۰,۷۲۸ سندونه ترتيب، چاپ او وېشل شوي دي، چې له دې جملې څخه ٤,٦٥۸ د حفظ دورې او ٦,۰۷۰ د خامسه دورې د فراغت سندونه دي.
- د درېيمې ربعې په اوږدو کې، د هېواد د ګرمسيرو ولايتونو د دارالعلومونو په ۱-۱٤ ټولګيو کې ټولټال ۱۳,۱۲۲ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې د يادو ارقامو له جملې څخه ٤,۱۲۵ تنه هلکان او ۸,۹۹۸ تنه نجونې دي.
- د دارالعلومونو رياست له لورې د کنړ، هلمند، نيمروز او بغلان ولايتونو په کچه د مدرسو او دارالعلومونو د طالب‌العلمان تر منځ علمي سيالۍ ترسره شوې، چې شاوخوا ۲,۵۰۰ تنو پکې ګډون کړی و.
- د مرکز او ولايتونو په کچه د عاليه دورې ټولټال ۱,٦٥٦ قطعې برې ليکونه (شهادتنامې) وېشل شوي دي.

### ۱.۲ ښوونه او روزنه

- د ولايتونو څخه د ترلاسه شوو راپورونو پربنسټ، ۲۳۸,۲۷۰ تنه نارينه زده کونکو او ۱۸۰,۱۰۹ تنه ښځينه نويو جذب شوو زده کونکو ته په اماراتي ښوونځيو کې د زده کړې زمينه برابره شوې ده.
- د عمومي زده کړو په ښوونځيو کې ۳٤٤ تنه کوچيانو زده کوونکو ته په خوست او کندز ولايتونو کې د زده کړې فرصتونه برابر شوي دي.
- د سواد زده کړې په کورسونو کې د جوماتونو د ملا امامانو له لارې په شرايطو برابر ۲۰۷ تنه لويان د ننګرهار، هلمند، نيمروز او فراه په ولايتونو کې شامل شوي او د هغوی لپاره د سواد زده کړې فرصتونه برابر شوي دي.
- د ولايتونو څخه د ترلاسه شوو راپوروونو پربنسټ، د ليک لوست زده کړو په کورسونو کې په شرايطو برابر ۴۱۸ تنه کوچي زده کوونکو ته د سواد زده کړې په کورسونو کې د ليک لوست زده کړې زمينه برابره شوې ده.
- د سواد په حياتي ښوونځيو، حرفوي او سيمه ييزو زده کړو په ښوونيزو مرکزونو کې د زده کوونکو د شموليت د طرزالعمل مسوده چمتو او بشپړه شوې ده.
- د سواد زده کړې د لومړۍ سويې له کتابونو څخه ۸ سرليکه درسونه په پښتو او ۱۸ سرليکه درسونه په دري ژبه په تعليمي او تربيتی تلويزيون کې ثبت شوي دي.
- د ښوونځيو د روغتيا آمريت د OPD په څانګو کې د پوهنې وزارت د ۲۲۴۸ تنه ناروغ کارکوونکو صحي معاينات او درملنه ترسره شوې او همدارنګه ٦٥۲ تنه ناروغانو لابراتواري معاينات ترسره شوي دي.
- ۱۳۴ تنه کارکونکي د ناروغۍ له امله تقاعد ته سوق شوي دي.
- په مرکزي کچه د ۳۸۳۴ تنه نويو شامل شويو زده کوونکو او په ولايتي کچه د ۱۱۲ تنه نوي شامل شوو زده کوونکو له روغتيايي معايناتو ډاډ ترلاسه شوی او تر روغتيايي ارزونې لاندې نيول شوي دي.

- د کابل ښار په شمول د ولایتونو په کچه د ښوونځیو ۱۵۱۸۴ تنه زده کوونکو او د اړونده ښوونځیو ښوونکو او مدیرانو لپاره د واش او حفظ الصحې په اړه ځلور ورځنی روزنیز پروګرام دایر شوی دی.
- د هیواد په کچه د حفظ الصحې او واش پروګرام له لارې د ښوونځیو زده کوونکو ته ۲۹۰٦٦ ټوکه کتابچې، معلوماتي بروشرونه، د پاکو اوبو لاربښود او ۵ داني صحي کیتونه ویشل شوي دي.
- د روان کال په اوږدو کې، د هېواد په ۲۰ ولایتونو کې د ښوونځیو زده کوونکو ته ۱۵۵۰٦۵۸ داني البینډازول ټابلیټونه ویشل شوي دي.
- ۵۰ تنه زده کوونکو لپاره چې غوښتل یې په بهرنیو هیوادونو کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، درې کلنې تعلیمي نمرې چمتو او ویشل شوي دي.
- د کابل ښار پوهنې ریاست په کچه په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د ۱۳۳ تنه بې وزلو زده کوونکو لپاره د فیس تخفیف ورکول شوی دی.
- د علمي المپیاډونو لارښود ترتیب شوی او د پوهنې وزارت له منظورُ وروسته د پلي کیدو په موخه د پوهنې ټولو ولایتي ریاستونو سره شریک شوی او په اړه یې ټولو ولایتی مسؤلینو ته لازمې لارښوونې ترسره شوې دي.
- د ولایتونو د ساینس مدیریتونو لخوا د ښوونځیو په کچه د زده کوونکو ترمنځ بیلابیل علمي او ساینسي اولمپیاډونه په لاره اچول شویدي شوي دي.

### ۱.۳ د وزارت مقام

- په دربیمه ربعه کې، د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د ۱۷ شمارې فرمان په اساس چې د ټولنې د ناخوښه رواجونو په هکله دی ۱۰,۰۰۰ نسخې بروشورونه چاپ شوي او د وېش لړۍ یې د مرکز او ولایتونو په کچه روانه ده چې د هغې له جملې څخه د ۵۰۰ په شمیر بروشورونه د ساینس مرکز محترم ریاست ته وېشل شوي دي.
- په دربیمه ربعه کې، د ښوونې او روزنې د ارزښت او اړتیا په هکله آغېزمن او زړه راښکونکي پیغامونه ترتیب شوي او په مرکز او بیلابېلو ولایتونو کې د مخابراتي شرکتونو، د جماتونو د منبرونو او رسنیو له لارې خپاره شوي دي.
- د ۵۰ په شمیر بنرونه چاپ او په مختلفو ځایونو کې نصب شوي دي.

## ۲. مدرس/استاد/ښوونکی

### ۲.۱ اسلامي زده کړې

- د مدرسو او دارالعلومونو لپاره د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې لارښود چمتو شوی او د نورو کړنو په موخه د پلان او پالیسۍ محترم ریاست سره شریک شوی دی. یاد لارښود د نوموړي ریاست له لوري تایید او د مقام د منظورۍ وروسته د تطبیق په موخه د ټولو ولایتونو پوهنې ریاستونو ته لېږل شوی ده.
- د مدرسو او دارالعلومونو د صنفي اصولو لپاره د وړ او مسلکي ښوونکو د توظیف لپاره لارښود چمتو شوی دی. یاد لارښود د پلان او پالیسي محترم ریاست له لوري تأیید شوی، چې وروسته د پوهنې وزارت د محترم مقام د منظورۍ وروسته د تطبیق په موخه د ټولو ولایتونو پوهنې ریاستونو ته استول شوی دی.
- د دربیمې ربعې په اوږدو کې کابل ښار اړوند ۱۰۵ تنه د آمر، مدیر، ښوونکي او نورو رسمي بستونو لپاره په ازموینه کې شامل شوي او ازموینه ورڅخه اخیستل شوې ده.

- د ۱۲۷ تنو حافظانو او د حسن قرائت او تجوید دورو له فارغانو څخه ازموينه اخېستل شوې او د هېواد په دارالحفاظونو او مدرسو کې د حفظ د استادانو په توګه پر دندو ګمارل شوي دي.
- ۱۱۵ تنه د مهتمم په توګه، ۱۲ تنه اجیران او ۱۲۷ تنه استادان د مرکز او ولایتونو په کچه په ازموينه کې شامل شوي او د ازموينې وروسته د اسلامي زده کړو په اړتیا وړ بستونو کې ګمارل شوي دي.
- ټولټال ۲۳۱۵ تنه چې په ولايتونو کې يې ازموينې په بريالۍ توګه سرته رسبدلې وې، اسناد يې په مرکز کې خپل رسمي پړاوونه بشپړ کړي او د وړاندېز شويو بستونو لپاره د ګمارنې په موخه ور پېژندل شوي دي.
- په بغلان او ميدان وردکو ولايتونو کې د مسلکي غړو د ظرفيت لوړولو لپاره يو ښوونيز سيمينار جوړ شوی، چې په هغه کې ۱۰٤ تنه غړوګډون کړی وه.
- د علمي او تدريسي غړو له خوا د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د ١٦ دارالعلومونو کتنه ترسره شوې ده.

## ۲.۲ ښوونه او روزنه

- د رشتې سره سم او د رشتې خلاف ښوونکو له پاره د روزنيزو سيمينارونو د دايرولو په موخه د ښوونکو داړتياوو معلومولو فورمه چمتو او تاييد شوې ده او د هغې پر بنسټ، د ښوونکو د اړتياوو ارزونه په مرکزي او ولايتي کچه ترسره او دا پروسه په ټول هېواد کې بشپړه شوې ده.
- د رشتې سره سم او د رشتې خلاف ښوونکو د روزنې په موخه روزنيزې کڅورې چمتو او د تطبيق په موخه د ولايتونو د علمي غړو سره شريکې شوي دي چې د هغې سره سم په بادغيس، سرپل، لغمان، ميدان وردک او ننګرهار ولايتونو کې د ظرفيت لوړولو ٦ - ۱۲ ورځني سيمينارونه ۹۲۸ تنه لابرانت او ښوونکو ته په نظري او عملی ډول داير شويدی.
- د رشتې سره سم د ښوونکو د توظيفولو لارښوود چمتو او وروستی شوی دی او د وروستيو کړنو په موخه د پلان او پالیسی رياست ته لیږل شوي دي.
- د صنفي اصولو دورې له پاره د غوره ښووونکو د توظيفولو لارښود چمتو او وروستی شوی دی او د وروستيو کړنو په موخه د پلان او پالیسی رياست ته لیږل شوي دي.
- د کابل ښار د ښوونيزو حوزو د علمي غړو په شمول د ۳۴ ولايتونو د شوراګاو د ښوونيزې ادارو ۲۷۰ تنه علمي غړو ته د اړتيا وړ روزنيز پروګرامونه په لاره اچول شوې دي.
- د مرکز او ولايتونو په کچه د ښوونځيو ۲۴۰۰ بابه شوراګانې د مسلکي پراختيايي ټيمونو د علمي غړو لخوا څارل شوي، او اړوندو چارواکو ته لازمي مشورې او لارښووونې شوي دي.
- د ښوونکو د مسلکي پراختيا ۳۷۱ تنه غړي د آزادې سيالۍ له لارې ګمارل شوې دي.
- په ننګرهار، کونړ، لغمان او نورستان ولايتونو کې ٦٥ تنه نويو ګمارل شوو علمي غړو ته د دندو چوکاټ، د دندو د لايحې، د څارنې د فورمو، د افکارو روښانه کولو او مسووليت منلو په اړه روزنه ورکول شوې ده.
- د مرکز او ۳۴ ولايتونو مرکزې هستې د ښوونکو د مسلکي پراختيا ۵۲۷ تنه علمي غړو ته د اړتيا وړ روزنيز پروګرامونه داير شوې دي.
- د کابل ښار د ښوونيزو حوزو په ګډون په ۳۴ ولايتونو کې ۱۱،۰۹۰ ښوونکو د ادراکي او لارښود روزنې او روزنيزو حلقو کې لازمه روزنه ترلاسه کړې ده.

- په کابل، کندز او فارياب ولايتونو کې ټولټال ۹ روغتيايي مديرانو او د هغوی مسلکي غړو د مينځلو، حفظ الصحې، ديوارمنيګ، او لومړنيو مرستو تر سرليک لاندې څلور ورځني روزنيز پروګرام څخه ګټه پورته کړې ده.
- د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د افتخاري ښوونکو له لارې د ليک لوست زده کړې ۳۴ بابه کورسونه جوړ شوي دي چې له امله يې ۲۴۵ کسانو ته د ليک لوست زده کړې زمينه برابره شوې ده.

## ۲.۳ مالي او اداري

- د اسلامي زده کړو د استادانو او مدرسينو د بستونو د دندو لايحې د اړوندې رشتې له مخې د دندو د لايحو د بياکتنې او معياري کولو په کمېټه کې بيا کتل شوي او معياري شوي دي او لازم اصلاحات پکې رامنځته شوي دي.
- د ښوونکو د ۱،۰٤٥ تش بستونه د کارکوونکو د ثبت او راجستريشن سيستم له مخې تشخيص او تثبيت شوي دي، چې له دې جملې څخه ۱۳٦ بستونه د کابل ښار د پوهنې رياست اړوند ښوونځيو کې دي او پاتې نور يې د بېلابېلو ولايتونو په کچه دي.
- د درېيمې ربعې په اوږدو کې ټولټال ۱،٥٥٥ تنه مدرسين او استادان، چې له دې ډلې ۱،٥٤٧ تنه نارينه او ۸ تنه ښځې دي، د مرکز او ولايتونو په کچه استخدام شوي دي، چې د هغوی د ګمارنې له امله د اسلامي زده کړو د ښوونيزو مرکزونو د ښوونکو د کمښت ستونزې تر يو حده حل شوې دي.
- د عمومي زده کړو په تعليمي مرکزونو کې د مرکز او ولايتونو په کچه ټولټال ۱،۷۲٦تنه ښوونکي، چې ۱،٥۸۲ تنه نارينه او ۱۴۴ تنه ښځې پکې شامل دي، استخدام شوي دي؛ چې له دې ډلې ۱،٦۹۹تنه د آزادې سيالۍ له لارې او ۲۷ تنه د وزارت محترم مقام د حکم پر بنسټ ګمارل شوي دي.
- د مرکز او ولايتونو په کچه ټولټال ۷۷۷ تنه نارينه علمي غړي او ۸ تنه ښځينه علمي غړي د وزارت د مقام د حکم او د آزاد سيالۍ د ازموينې لارې استخدام شوي دي؛ چې له دې ډلې ۳۷ تنه د مرکز په کچه او ۷۴۰ تنه د ولايتونو په کچه دي.

## ۳. نصاب

### ۳.۱ اسلامي زده کړې

- د پوهنې وزارت د مرکزي ګدام څخه ۱۳۷،۷۲۰ (يو لک اوويشت زره، اووه سوه شل) ټوکه درسي کتابونه فراه، باميان، کابل، قندهار، خوست، ميدان وردګ، پروان او هلمند ولايتونو ته وېشل شوي دي.

### ۳.۲ ښوونه او روزنه

- د ۴-٦ ټوولګيو توحيدي نصاب درسي کتابونه د نصاب او مسلکي پراختيا عمومي رياست لخوا ترتيب او نهايي شوی او د منظورۍ په موخه د مشرتابه عالي مقام ته استول کيږي.
- د عمومي زده کړو د ۷-۹ ټوولګيو د درسي کتابونو بيا کتنه جريان لري چې له هغې جملې څخه يې د ۷-۹ ټولګيو ديني ښوونه او روزنه، د صحابه کرامو سيرت او د اولاد روزنې کتاب بيا کتنه ترسره شوې او پدې ربعه کې يې ۱۵ سلنه پرمختګ کړيدی.

- له ښوونځي څخه د مخکې زده کړو د ۸ سرلیکه په درسي کتابونو (دیني علوم په پښتو ژبه او ریاضي په دري ژبه، پښتو او دري) او همدارنګه په انتخابي مضمونونو (زراعت مضمون د لسم ټولګي او د د لسم ټولګي د تشبث مضمون په دري او پښتو ژبو) د تالیف کار جریان لري او په دې ربعه کې ۲۷٪ پرمختګ کړیدی.
- له ښوونځي څخه د مخکې زده کړو درسي کتابونو (دیني علوم په دري ژبه او ریاضي په پښتو ژبه) و انتخابي مضمونونه (د یولسم ټولګي زراعت او د کورني اقتصاد د اتم ټولګي د تالیف چارې روانې دي او په دې ربعه کې ۲۴٪ پرمختګ لري.
- د لیک لوست زده کړې د دویمې سویې د درسي کتابونو (ښوونه او روزنه، دیني علوم، ریاضي، ټولنیز علوم، دري او پښتو) تالیف جریان لري او په دې ربعه کې یې ۴۵ سلنه پرمختګ کړیدی.
- د ۷ څخه تر ۱۲ ټولګیو پورې د ریاضي، دیني علومو، دري ژبې او سواد زده کړې د ۲۴ عنوانه درسي کتابونو ژبنۍ ستونزې اصلاح شوې دي.
- د اووم ټولګي د عربي ژبې او ساینس درسي کتاب او همدارنګه د اووم او اتم ټولګي د ریاضي مضمون بیاکتنه ترسره شوې ده.
- د لسم ټولګي د انګلیسي ژبې درسي کتاب بیا کتنه ترسره شوې ده، همدارنګه  د لسم ټولګي د کمپیوټر درسي کتاب په پښتو ژبه بشپړ او د نصاب د کمیټې سره د تایید او ورستي کېدو په موخه شریکولو ته چمتو دی.
- د چاپېریالي موادو د ګټې اخیستنې د لارښود د تطبیق په موخه د ولایتونو د ساینس مدیریتونو علمي غړو ته د لوړتیاوو لوړولو برنامه دایره شوې ده، همدارنګه د هېواد ۱٦ ولایتونو د پوهنې د ولسوالیو آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو مسوولینو د اړونده ولایتونو د ساینس مدیریت د مسوولینو لخوا لازمې لارښوونې وړاندې شویدي او دا لړې په نورو پاتي ولایتونو کې ادامه لري.
- د ساینس او ریاضي ښوونکو له پاره د تجربې لارښود ۱۳۸۵ ټوکه کتابونه د هېواد په ۷ ولایتونو کې ویشل شوي دي، او په پاتې  ولایتونو کې د پورته ذکر شویو کتابونو د ویشلو لړۍ روانه ده.
- د ساینس، ریاضي او کمپیوټر څانګو د درسي مرستندویه توکو د تولید لپاره اړین خام مواد اخیستل شوي او د ساینس مرکز ریاست ته لیږدول شوي دي.
- د لرګیو د صنعت ۲۹۰،  د پلاستیک د صنعت  ۲۸۰،  فلزونو د صنعت  ۳۰۰ کیټونه او ۱۰۸۲ د ګچو بیولوژي موډلونه تولید شوي دي.
- ۵٦۸۲ دانې روزنیزچارټونه چاپ شوي، ۱۸۵ دانې د لابراتوار میزونه او  ۲۰۰ دانې  فلزي چوکۍ جوړې شوي دي. همدارنګه، د مرستندویه درسي موادو او لابراتواري توکو سهمیه بندي بشپړه او ۹ ولایتونو خپل مواد انتقال کړي او نور پاتي ولایتونه د انتقال په حال کې دي.
- د بدني روزنې د ښوونکي لارښود ۷۰۱ ټوکه کتابونه د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته وېشل شوي دي.

### ۳.۳ د وزارت مقام

- د درسي کتابونو د ویشلو د مدیریت آنلاین سیسټم (OTIMS) د معلوماتي ټکنالوژی د محترم ریاست لخوا د دې ریاست سره په همغږی د پراختیا په حالت کې دی چې د پراختیا وروسته به یې لاربنود چمتو او پلي شي.

## ٤. روزنیزه ارزونه

### ٤.١ اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو د معیاري پوښتنو بانک لاربنود ترتیب شوی او د نورو کړنو په پار د پلان او پالیسي محترم ریاست ته استول شوی دی.
- د قابلیتونو د ارزونې ریاست د پوښتنو بانک د کمیټې لخوا د ګډې او ډیپلوماټیکې ازموینې اخېستلو او د علماو کرامو د سویې د تثبیت په موخه، ۸۰۰ تشریحی پوښتنې ترتیب شوې او په ډېټابیس کې ثبت شوې دي.
- د قابلیتونو د ارزونې ریاست د پوښتنو بانک د کمېټې لخوا، د ګډې ازموینې د اخېستلو په موخه، د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو او مضمونونو له پاره د اړتیا وړ تشریحي پوښتنې مشخصې شوې او ټاکل شوي دي.

## ٥. روزنیز چاپېریال

### ٥.١ اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو د معینیت له لوري په (بلخ، هلمند، کندهار، فاریاب، بغلان، ولایت کابل، ننګرهار، غزني، میدان وردک، دایکندي، فراه، کاپیسا، پروان، هرات، لوګر، کندز، بدخشان، ارزګان، غور، تخار، سرپل، بامیان او پکتیکا) ولایتونو کې ټولټال ۱۰۱ بابه مدرسې او ٦ بابه دارالحفاظونه جوړ شوي دي.
- د درېمې ربعې په اوږدو کې، ټولټال ۲۲۱ بابه مدرسو بنه (نوعیت) په غزني، هلمند، میدان وردک، کابل، کندهار، کندز، بلخ، لوګر، بغلان، جوزجان، هرات او زابل ولایتونو کې بدلون موندلی دی.
- د قابلیتونو د ارزونې ریاست د علمي غړو له لوري، په مرکز کې له ټولټال ٦٨ بابه خصوصي مدرسو څخه څارنه او کنټرول ترسره شوی دی.

### ٥.٢ ښوونه او روزنه

- د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په موخه، د ښوونیزو مرکزونو د اړتیاوو سنجونې بهیر د کابل ښار په شمول په ټولو ولایتونو کې بشپړ شوی او له مخې یې ۲۲۸ بابه لابراتوارونه د هیواد د ۱۸ ولایتونو په بېلابېلو ښوونځیو کې تجهیز شویدي، د یادولو وړ ده چې پاتې نور لابراتوارونه به د وسایلو ا و موادو له اخیستلو وروسته په لازمو توکو سمبال شي.
- په بغلان، بلخ، جوزجان، لوګر، ننګرهار، هرات، پکتیکا، تخار، کابل ښار، غور، فاریاب او کندز ولایتونو کې ٦١ بابه لابراتوارونه ایجاد شوي دي.
- د اړتیا سره سم د ۱۳۳ تنه خدمتي او اضافه زمره ښوونکو بستونه له یو ښوونځي څخه بل ښوونځي ته تبدیل شویدي.
- د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې ۱۲۱۷بابه ښوونځي چې له دوه وختو څخه زیات درسي وختونه لري تثبیت شویدي.
- د بېلابېلو ولایتونو په کچه ۳۴ بابه ښوونځي د سېلابونو، بارانونو او نورو طبیعي پېښو له امله په بیړني حالت کې قرار لري.
- د هغه ټولګیو په هکله چې ښوونکي نه لري د اړینو اقداماتو د ترسره په موخه د لاربنود مسوده د پلان جوړونې ریاست سره په همغږی چمتو شوې او اوس مهال د اړوندو ادارو له لارې اداري پړاوونو لاندې ده.

- په ازاده هوا کې د موجوده ټولګيو په هکله د لازمواقداماتو د ترسره کولوو په موخه د لاربښوود مسوده د پلان جوړونې رياست سره په همغږۍ کې د څو غونډو د دايرولو په ترځ کې ترتيب او بشپړه شوې ده.
- خصوصي زده کړو ته د زده کونکو د لاسرسي په موخه، د کابل ښار په ګډون د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې ۲۲٦ بابه خصوصي ښوونځي او ۲۳٦ بابه خصوصي ښوونيز کورسونه نوي تاسيس شوي دي.
- ۲ بابه لومړني دورې ښوونځي منځنۍ دورې ته او۸ بابه ښوونځي له منځنۍ دورې څخه لېسې ته لوړ شوي دي.
- ۲۵بابه خصوصي ښوونځي له لومړنۍ دورې څخه منځنۍ دورې ته او۱۰ بابه خصوصي ښوونځي له منځنۍ دورې څخه لېسې ته لوړ شويدي، چې د دې ارتقاء له امله زده‌کوونکو ته په خپلو اړوندو ښوونيزو مرکزونو کې د زده‌کړې د دوام غوره زمينه برابره شوې ده.
- د هېواد په۷ ولايتونو کندهار، نيمروز، لغمان، ننګرهار، کنر، هلمند او فراه کې د رسمي ښوونکو له لارې ټولټال۷۵۱ بابه د ليک لوست زده کړې کورسونه جوړ شوي، چې ۱۹۰ بابه کورسونه د ښځينه‌وو لپاره ځانګړې شويدي. د دې کورسونو په جوړېدو سره ۱۵۴۷۷ تنه د ليک لوست زده کوونکو ته د زده‌کړې زمينه برابره شوې ده.
- په ننګرهار، بلخ، غور، کنر او هلمند ولايتونو کې د جماعتونو د ملا امامانو له لارې ۸ بابه د ليک لوست زده کړې کورسونه ايجاد شوي دي.
- په هرات، نيمروز، لغمان، هلمند، فراه، فارياب او باميانو ولايتونو کې د ببرته راستنيدونکو له پاره ۱۴ بابه د ليک لوست زده کړې کورسونه  جوړ شوي دي.
- په ننګرهار او هلمند ولايتونو کې د کوچيانو لپاره ۱۱ بابه د ليک لوست زده کړې کورسونه جوړ شوي دي.
- د هېواد په بيلابيلو ولايتونو کې۱۴بابه خصوصي ښوونځي او۹ بابه خصوصي ښوونيز کورسونه سپارل شوي دي.
- د هېواد په کچه ۱۱۱ بابه خصوصي ښوونځيو او۵۹ بابه خصوصي ښوونيز کورسونو  خپل د فعاليت جوازونه نوي کړيدي.

## ۵.۳ مالي او اداري

- د پکتيکا، هلمند او ننګرهار ولايتونو په کچه د مدرسو او ښوونځيو د ودانيو د جوړولو لپاره ټولټال ٦۲ جريبه ځمکه انتقال شوې ده، چې له دې ډلې ۳۰ جريبه ځمکه د پکتيکا ولايت د جهادي مدرسې لپاره، ۲ جريبه ځمکه د هلمند ولايت د يوه ښوونځي د ودانۍ د جوړولو لپاره او ۳۰ جريبه ځمکه د ننګرهار ولايت د سره رود ولسوالۍ د محمديه ديني مدرسې د جوړو لپاره ځانګړې شوې ده.
- د فارياب، هلمند، تخار، دايکندي او سرپل په ولايتونو کې د ۴۵ بابه ښوونځيو ودانۍ په ډيټابېس سيستم کې ثبت شوي دي. همدارنګه د هرات، فارياب، کابل، فراه او خوست ولايتونو کې د ۱۵ بابه اداري او ښوونيزو بنسټونو محوطې هم ثبت شوي دي. سربېره پر دې، د هرات، خوست، کابل، فارياب او سرپل په ولايتونو کې د ۸۵ بابخ ښوونيزو بنسټونو د ودانيو د ترميماتو ثبت هم ترسره شوی دی.
- د نتايجو او شهادتنامو د رياست د ودانۍ د جوړولو پروژه، چې د هغې د ځمکې ملکيت پخوا د تخنيکي او مسلکي زده کړو د اداري سره تر منازعې لاندې وه، د ملکيت ستونزه يې حل او فصل شوې ده او د پروژې کار بيا پيل شوی دی، چې دا مهال ۹ سلنه فزيکي پرمختګ لري.
- د سرپل ولايت د پوهنې رياست د بی بي زينب د نجونو مدرسې لپاره د ۱۰ ټولګيو او ۲ اداري دفترونو د ودانۍ پروژه تر کار لاندې ده او تر اوسه ۲۵ سلنه فزيکي پرمختګ يې شوی دی.

- د کابل ولایت د چهار آسیاب ولسوالۍ د پوهاند نگهت سیدي لیسې لپاره د لوې دروازې سره د محافظتي او احاطوي دېوال د جوړولو پروژه تر کار لاندې ده او تر دریېمې ربعې پورې یې شاوخوا ۷۵ سلنه فزیکي پرمختګ کړی دی.
- د نتایجو او شهادتنامو د ریاست لپاره د تجهیزاتو د برابرولو او اخیستلو پروژې قرارداد د قراردادي شرکت سره ترسره شوی دی. د نتایجو د آرشیف لپاره ۲۰۰ پایې الماری اخیستل شوي او اړوند ریاست ته سپارل شوي دي. د ۱٦ قلمه ټکنالوژیکي وسایلو او د لږترلږه ٦۰ او حد اکثر ۷۵ سیټه رنګ د پیرلو پروژې تر کار لاندې دي.
- د عادي بودیجې څخه د ۵۱۹ ترمیماتي پروژو راپورونه د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د انجنیرۍ ټیمونو له خوا له مرکز سره شریک شوي دي، چې له دې ډلې ۱۷۲ پروژې بشپړې شوي او پاتې نورې پروژې تر کار لاندې دي.
- د پوهنې وزارت د مرکزي ادارو او ښوونیزو بنسټونو ۱۲ پروژې، چې د ودانیزو چارو، د پوهنې وزارت مرکزي جومات لپاره د فلزي برنډې، د کابل مرکزي دارالحفاظ ترمیم، د کړکیو نصبول، د سمینټنې پایو اخیستل او نصبول او نور شامل دي، د عادي بودیجې له لارې په مرکز کې بشپړې شوې دي.
- د ولایتونو له خوا د ترلاسه شویو راپورونو پر بنسټ، د بېلابېلو ولایتونو د اداري او ښوونیزو بنسټونو ۹۲ ترمیماتي پروژې د همکارو مؤسسو د بودیجې له لارې ترمیم او بشپړې شوې دي.
- د منظور شوي پلان پر اساس د تشکیلاتو د انډول برابرولو لارښود کابل ښار پوهنې ریاست په شمول ۳۴ ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته تکثیر شوی او د ویډیو کانفرانس له لارې د پوهنې ټولو رئیس صاحبانو او د کابل ښار په شمول د هغوی تخنیکي همکارانو ته تشریح او لارښوونه شوې ده.
- د تشکیل انډول برابرولو کمېټه د لارښود د پلې کولو په موخه قندهار ولایت ته سفر کړی او خپل اجراآت یې د پوهنې وزارت محترم مقام سره شریک کړي او منظوري یې ترلاسه کړې؛ په پایله کې د یاد ولایت د ښوونیزو بنسټونو له تشکیلاتي سقف څخه ۱,۲۷۸ بستونه کم شوي او د پوهنې وزارت مقیدې ته لیږدول شوي دي.
- د خدماتو ریاست د فني او مسلکي ټیم له خوا د څرخي پله په شاپونو کې ټولټال ۵,۳۱۸ دوه کسیزې میزونه او څوکۍ ترمیم او تولید شوي او د ولایتونو د اړتیا له مخې د وېش لپاره چمتو دي.
- ټولټال ۷۸ قلمه مطبوع قرطاسیه ټولو مرکزي ادارو ته او ۱۴۷ قلمه د ولایتونو ټولو پوهنې ریاستونو ته د رسمي حوالې او تثبیت شوي سهمیې پر اساس وېشل شوې ده، چې په دې کار سره د اړوندو ادارو په ورځنیو رسمي چارو کې ښه والی رامنځته شوی دی.
- همدارنګه، ټولټال ۹۷۴ قلمه غیر مطبوع قرطاسیه ټولو مرکزي ادارو ته د پوهنې وزارت د رسمي حوالې او تثبیت شوي سهمیې پر اساس وېشل شوې ده.

## ٦. د ټولنې ګډون

### ٦.١ ښوونه او روزنه

- د پکتیا، کندز، سمنگان، فاریاب، پروان، بغلان، لوګر او ننګرهار ولایتونو په کچه د ښوونځیو د زده کوونکو ترمنځ ۷ دورې ورزشي نمانځغونډې ترسره شوې دي.
- د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ولایتي سواد زده کړې مدیریتونو له لورې ۲۰ غونډې د ولایتي سواد زده کړې کمېټو له لورې ترسره شوې دي، ۱۲۷ د ولسوالیو سواد زده کړې کمېټو غونډې، او ۳۹۳ د کلیو د سواد زده کړې کمېټو غونډې دایرې شوې دي.
- د سواد زده کړې د برنامې لپاره د سرچینو د راټولولو او منظمولو کړنلاره چمتو او بشپړه شوې ده.

### ۶.۲ د وزارت مقام

- د ټولنې د ګډون د جلب سند د پوهنې نظام د پراختیا په موخه، د نورو اداره سره په هغړی د پلان او پالیسۍ ریاست له لوري په پښتو او دري ژبو چمتو شوی او د منظورۍ لپاره د پوهنې وزارت مقام استول شوی دی.

## ۷. مدیریت

### ۷.۱ اسلامي زده کړې

- د اسلامي زده کړو معینت له لوري، د ښوونیزو بنسټونو د تشکیلاتي ستونزو د حل په موخه ټولټال ۴۲۴ بستونه د مدرسو لپاره په ۲۳ ولایتونو (بلخ، هلمند، کندهار، فاریاب، بغلان، ولایت کابل، ننګرهار، غزني، میدان وردګ، دایکندی، فراه، کاپیسا، پروان، هرات، لوګر، کندز، بدخشان، ارزګان، غور، تخار، سرپل، بامیان او پکتیکا) وېشل شوي دي. همداراز ۱۴ دارالحفاظونو د ستونزو د حل لپاره ۲۱ بستونه په (هلمند، ننګرهار، فاریاب او کاپیسا) ولایتونو کې هم وېشل شوي دي.
- د درېیمې ربعې په اوږدو کې د ۴۵ تنو استادانو او د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غږو او ۱۶ تنو مامورینو د اسنادو پړاوونه بشپړ شوي او د ګمارنې په پار اړوندو مراجعو ته معرفي شوي دي.
- د اسلامي زده کړو معینت له لوري، د کابل ښار او (فاریاب، بادغیس، ننګرهار او کندز) ولایتونو کې د ۵۸ بابه مدرسو د تاسیس په موخه ټولټال ۸۶ بستونه وېشل شوي دي.

### ۷.۲ ښوونه او روزنه

- د زده کوونکو لپاره ۱۰۰ قطعې د نمرو ترانسکرېپټونه او تعلیمي سوابق ترتیب شوې دي او د زده کړو د دوام لپاره اړوندو مراجعو ته استول شوې دي.
- د بدني روزنې د مضمون د درسي مفرداتو د تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په ۵۰ بابه ښوونځیو کې د بدني روزنې مضمون د تطبیق څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د کابل ښار د ۱۰ ښوونځیو او د ولایت په کچه د لسو ښوونځیو د څارندوی د ټیمونو د فعالیتونو، نظم او ډسپلین څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د پولې څخه بهر ښوونځیو د زده کوونکو ۳۲۱ قِطعې ښوونیز اسناد ارزول شوې دي او د وروستیو کړنو د ترسره کېدو په موخه اړونده ادارو ته استول شوې دي.
- په ښوونځیو کې د څارندوی ټرافیکي ټیمونو د جوړولو په موخه د لارښوود مسوده چمتو شوې ده او د نورو اقداماتو لپاره د علمي شورا ریاست ته لیږل شوې ده.
- په ښوونځیو کې د څارندوی اړونده اطفاییه ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو د لارښوود مسوه چمتو شوې ده.
- د علمي او مسلکي بستونو لپاره د وړ کسانو د ګمارنې په موخه د نوماندانو اسناد ارزول شویدي او په پایله کې د علمي کادر ۳۷ تنه غړي ګمارل شوي دي.
- د مرکز او ولایاتو په کچه د ساینس مرکزونو د علمي غړو د ګمارنې په موخه د نوماندانو ۶۱ علمي کنفرانسونه ترسره شوې، چې په پایله کې یې ۲۷ تنه نوماندان بریالي ارزول شوې دي.

- • د زونونو د علمي غړو او د ننگرهار، باميان، کندهار او هرات ولايتونو د علمي غړو لپاره د ظرفيت لوړولو د روزنيز پروگرام د دايريدو له بهير څخه څارنه ترسره شوېده.
- د ولايتونو د پوهنې رياستونو څخه د ترلاسه شويو راپورونو پربنسټ، د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د ۱۲۸۹۸ بابه لابراتوارونو او کمپيوټرلبونو د کړنو د څرنگوالي څخه حمايوي څارنه تر سره شوې ده.
- د روان لمريز کال د دريمې ربعې په ترڅ کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا رياست مشرتابه له لوري د کندز، سمنگان، بلخ، جوزجان، پروان، پکتيا، نورستان، لغمان، ننگرهار، باميان، کندهار، فراه او هرات ولايتونو د مرکزي هستې د ښوونکو د مسلکي پراختيا ټيمونو د کړنو د څرنگوالي څخه عملاً څارنه تر سره شوې ده.
- د و لسواليو په کچه د ښوونکو دروزنې او مسلکي پراختيا د ۳۹۷ ټيمونو د کړنو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د ښوونځيود تدريسي او اداري کړنو د څرنگوالى څخه د ډاډ حاصلولو په موخه په مرکز او ولايتونو کې د مسلکي پراختيا ټيمونو له لوري د ۱۴,۸۳۱ بابه ښوونځيو څخه په دريمې ربعه کې څارنه ترسره شوې ده.
- د مسلکي پراختيا د ټيمونو له خوا د ليک لوست زده کړو د ۱۴۰۲ بابه کورسونو د فعاليتونو څخه څارنه تر سره او اړوندو مسؤلينو ته يې لازمې لارښوونې وړاندې شوي دي.
- د ښوونځيود تدريسي او اداري چارو د څرنگوالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، د مرکز او ولايتونو په کچه د ۷۴۵۹۲ تنه ښوونکو له تدريسي بهير، د ۸۰۳۸ تنه سرښوونکو او۶۵۸۶ تنه ښوونځيو د آمرانو/مديرانو له فعاليتونوڅخه څارنه اوعملاً مشاهده تر سره شوې ده.
- د کابل ښار په گډون د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې ۸ بابه خصوصي ښوونځي نورو ځايونو ته انتقال شوي دي.
- د پوهنې وزارت د ۱۴۰۴ کال د عملياتي پلان د تطبيق پروړاندې ستونزې او خنډونو په ليکلي بڼه تشخيص او تحليل شوې دي.
- د خصوصي ښوونځيو د زده کوونکو ۲۱۲۰ قطعې د فراغت اسناد تصديق شوي او په اړونده سيستم کې ثبت شوې دي.
- د هېواد د۳۴ ولايتونو څخه د خصوصي ښوونځيو احصايوي ارقام او معلومات راټول او له ډلې يې د ۸ ولايتونو معلومات په اړونده ډيټابيس کې ثبت شوې دي.
- د کابل ښار په گډون د ۳۳۶ بابه خصوصي ښوونځيو او ۱۶۳ بابه خصوصي کورسونو څخه کنټرول او څارنه ترسره شوې ده.
- د کابل ښار اړوند ۱۵بابه خصوصي ښوونځيو ستونزې بررسي او ارزول شوې دي.
- د ښوونې او ارزونې معينيت اړونده رياستونو د عملياتي پلان د تطبيق او پرمختگ څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه،۲۱مياشتني راپورونه او يو ربعوار(درې مياشتنى) راپور چمتو او شننه يې ترسره شوې ده.
- د ښوونې او روزنې پروگرام د کارکوونکو د گمارنې، تبديلۍ او خدمتي مودې د څرنگوالي په هکله ۵ بېلابېلي غونډې ترسره او د اړونده طرحې مسوده ترتيب شوې ده.
- د اساسي او ثانوي زده کړو رياست او ښوونيز نصاب د پراختيا رياست د دندو حجم ترتيب شوې دي.

- د ۴۲۹ قطعو سندونو په هکله، چې غوښتنلیکونه او وړاندیزونه پکې شامل دي په ۱۱ بېلابېلو غونډو کې لازمې پرېکړې تر سره شوي دي.

### ۷.۳ د کیفیت تضمین

- د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونځي څخه مخکې زده کړو په اړه څېړنه ترسره شوې، راپور یې چمتو شوی او د وزارت محترم مقام سره د شریکولو لپاره چمتو دی.
- د عمر او ولایت له مخې له زده کړې څخه د محرومو ماشومانو په اړه څېړنه ترسره شوې او راپور یې ترتیب شوی دی چې د علمي بورډ نظر څرګندولو وروسته به د وزارت محترم مقام سره شریک شي.
- د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونکو د ټولنیز او اقتصادي مقام او ځای په اړه څېړنه ترسره شوې او راپور یې چمتو شوی دی، چې د علمي بورډ له نظر څرګندولو وروسته به د وزارت له محترم مقام سره شریک کړل شي.
- د پوهنې په پراختیا کې د ټولنې د ګډون په اړه څېړنه ترسره شوې او راپور یې چمتو شوی دی، چې د علمي بورډ له نظر څرګندولو وروسته به د وزارت محترم مقام سره شریک کړل شي.
- د پوهنې وزارت د لومړیتوب لرونکو مسایلو په اړه څېړنې ترسره شوې دي او راپورونه یې چمتو شوي، چې د علمي بورډ له نظر څرګندولو وروسته به د وزارت محترم مقام سره شریک کړل شي.
- د علمي څېړنو د پایلو د ازمایښتي تطبیق لپاره د لارښود مسوده د څېړنو د پایلو د ازمایښتي تطبیق د ملي او نړیوالو شالید مطالعې پر بنسټ په لسو پاڼو او دوو فصلونو کې جوړه شوې ده، چې د علمي بورډ له نظر څرګندولو وروسته به د وزارت محترم مقام ته وړاندې شي.
- د دوو علمي څېړنو د پایلو آزمایښتي تطبیق ترسره شوی دی، چې لومړی څېړنه د اسلامي هېوادونو تجربو ته په تمرکز سره د ښوونځیو د کیفیت د شاخصونو د پېژندنې په اړه وه او دویمه څېړنه د درسي محتوا د ترتیب د معیارونو د پېژندنې او د هېواد د ښوونځیو د یوولسم ټولګي له مضامینو سره د هغې د ورته والي د کچې د ارزونې په موخه ترسره شوې وه؛ یاد آزمایښتي تطبیق په ۱۴۰۳ هـ ش کال کې د پوهنې وزارت د مرکزي هستې په پنځو ریاستونو کې عملي شوی او د یادو ریاستونو د پروګرامونو ۱۲ تنه آمرین د دغو څېړنو تر پوښښ لاندې راغلي دي.
- د شپږو څېړنیزو سرلیکونو د تطبیق پلان او روزنیز مواد نهایي او تصویب شوي دي او اوس مهال په ښوونیزو ادارو کې عملي کیږي. هغه څېړنیز سرلیکونه چې له ولایتونو سره به شریک شي، مشخص شوي دي او د یوه څېړنې سرلیک راپور هم چمتو او لنډیز شوی دی.
- د لاندې څلورو علمي څیړنو د پایلو ازمایښتي تطبیق. ۱ په ۱۳۹۹هـ ش کال کې د کابل ښار په دولتي ښوونځیو کې د ثانوي ښوونځیو په تدریس کې د زده کوونکو پر بنسټ تدریسي میتودونو د پلي کولو کچه ټاکل، ۲ د کابل ښار په دولتي ښوونځیو کې د مسلکي اصولو ښوونکو سره د ننګونو پیژندل، ۳. د ټولنیزو علومو په برخه کې د ساینس تدریس لپاره د لیسې د ساینس ښوونکو اړتیاو ارزونه، او ۴. په ۱۴۰۴ هـ ش کال کې د اسلامي هېوادونو تجربو ته په پام سره د ښوونځیو د کیفیت شاخصونو پیژندل، د کابل ښار او کابل ولایت د پوهنې ریاستونو په ۲۰ ښوونیزو ادارو (ښوونځیو او مدرسو) کې ترسره شوی، او د پورته ذکر شویو ادارو شاوخوا (۷۹) ښوونکي د دې تطبیق تر پوښښ لاندې نیول شوي دي.
- د پوهنې په برخه کې د څېړنو د مدیریت د لارښود مسوده چمتو شوې ده، چې د علمي بورډ له نظر څرګندولو وروسته به د وزارت محترم مقام سره شریک کړل شي.

- د علمي څېړنو رياست کارکوونکو ته د SPSS، ايکسل، عقيدوي، فقهي او اخلاقي درسونو، د سايبري خطرونو په اړه د پوهاوي  او د ملکي خدمتونو انستيټيوټ د روزنيزو پروګرامونو سره د بلدتيا په موخه روزنه ورکړل شوې ده.
- د درېيمې ربعې په جريان کې ټولټال ۷۵ تحقيقي-علمي مقالې راټولې شوې دي، چې د علمي څېړنو د رياست د همغږۍ آمريت د غړو له ارزونې وروسته د تحقيقاتو په بانک کې ثبت، چاپ او په ډيټابېس کې ځای پر ځای شوې دي.
- د درېيمې ربعې په جريان کې د ۱۴۰۴ کال لپاره د هېواد د ښوونيزو ادارو ټولټال ۲۸,۹۶۰ احصايوي او معلوماتي فورمونه راټول شوي، چې د ارزونې او څېړنې وروسته د ډيټابېس په سيسټم کې ثبت شوي دي.
- د ۱,۸۳۴ نوو تأسيس شويو، مدغم شويو او د ځای بدلون موندلو ښوونيزو بنسټونو مختصات راټول شوي او په GIS سيسټم کې ثبت شوي دي.
- د درېيمي ربعې په جريان کې د څارنې او ارزونې رياست د څارنې ټيم لخوا د ۲۰ ولايتي پوهنې رياستونو، ولسواليو او ښوونيزو مرکزونو څخه ليدنې او څارنې ترسره شوې، چې د څارنې د موندنو راپورونه اوس د تصويب په مرحله کې دي. له دې ډلې د ٦ ولايتي پوهنې رياستونو، ۲۳ ولسواليو او ۱۴۸ ښوونيزو بنسټونو راپورونه بشپړ شوي او د پوهنې وزارت د محترم مقام سره د شريکولو لپاره چمتو دي.
- د کابل ولايت او کابل ښار د ۱۱۵ ښوونيزو بنسټونو په ګډون د ښوونيز نصاب د ټيټې کچې تطبيق، د رشتې خلاف ښوونکو ګمارنه، او د ښوونيزو بنسټونو ترمنځ د سرچينو غير متوازن وېش ستونزو د ټاکل شويو موضوعاتو د ارزونې د طرحې او ابزارو د ازمايښتي تطبيق راپور چمتو شوی او د اړونده فورمونو ستونزې برىره شوي اصلاح شوې دي.
- د ۱۴۰۴ کال د عملياتي پلان لومړيتوبونه، فعاليتونه، شاخصونه او اهداف، چې د پلان او پاليسۍ رياست لخوا د کال په منځنۍ بياکتنه کې اصلاح او بيا کتل شوي وو، د راپور ورکولو په آنلاين سيسټم کې د ټولو پروګرامونو لپاره بيا نوي او اصلاح شوي دي.
- د ۱۴۰۴ کال د عملياتي پلان د تطبيق او پرمختګ د لومړيو شپږو مياشتو راپورونه او د پوهنې وزارت لاسته راوړنې په ملي او ولايتي کچه چمتو شوي او د نهايي کولو وروسته د پوهنې وزارت په ويبپاڼه کې خپاره شوي دي.
- د آنلاين ازموينو او ارزونو د پوښتنو بانک الکترونيکي سيسټم پراختيا موندلې او د پوښتنو د ثبت لپاره چمتو دی.
- د شپږم او نهم ټولګي د ملي ارزونې طرحه او وسايل جوړ شوي دي، او د کابل ښار په ښوونځيو کې د آزمايښتي تطبيق وروسته، عملي ارزونه د کابل، پنجشير، بلخ، سمنګان، بغلان، غزني، باميان او هرات ولايتونو د پوهنې رياستونو په کچه ترسره شوې ده. ترلاسه شوې ډاټا په سيسټم کې ثبت شوې او په نږدې راتلونکي کې به تحليل شي.
- د لسم ټولګي د څلورو مضمونونو (اسلامي زده کړو، رياضي، کيميا او ژبې) د ازموينې پلان بشپړ شوی او د تطبيق لپاره چمتو دی.
- د هېواد په دولتي او خصوصي ښوونځيو کې د معيارۍ، يوشان او سراسري ازموينې پلي شوي او له ۴۰,۰۰۰ تنو زده کوونکو څخه په څلورو مضمونونو کې ازموينه اخيستل شوې ده.
- د معياري ازموينو رياست ټولټال۵۰ تنه کارکوونکي د ازموينې اخيستلو، نمرې ورکولو، د ارزونې وسيلو ټاکلو او د SPSS پروګرام د کارولو په برخو کې د ظرفيت لوړولو له ښوونيزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.
- د سندونو د وېش بهير د ساده کولو لپاره، برېښنايي سيسټم جوړ شوی دی، چې د سندونو راپورونه، ډشبورډ، د نوم لټون، د ښوونکو د روزنې د دارالمعلمينونو د فارغانو نتايج او د سندونو احصايوي معلومات د را وېستلو وړتيا لري.

- د درېيمې ربعې په اوږدو کې، د نتايجو او شهادتنامو رياست له لوري ټولټال ٥,٨٨٤ قطعې شهادتنامې، دولتي، خصوصي او هېواد څخه بهر ښوونځيو، اسلامي زده کړو بنسټونو او د دارالمعلمين د فارغانو لپاره چاپ او وېشل شوي دي، چې له دې ډلې،۴,۵۸۱ قطعې د دولتي ښوونځيو، ۴۷۲ قطعې د خصوصي او بهر ښوونځيو فارغانو، ۴۰۰ قطعې د اسلامي ښوونيزو بنسټونو او ۴۳۱ قطعې د دارالمعلمينو لپاره دي.
- د کابل ښار او ولايتونو د پوهنې رياستونو له لوري ټولټال ۱۴,۸۷۳ شهادتنامې د دولتي ښوونځيو، اسلامي زده کړو بنسټونو او دارالمعلمينو لپاره په انفرادي ډول راټولې شوې، چې د تاييد وروسته د فارغانو د وېش لپاره استول شوې او وېشل شوې دي.
- د درېيمې ربعې په جريان کې، د ولايتونو او مرکزي پوهنې رياستونو له لوري ټولټال ۵۱,۲۵۹ شهادتنامې د دولتي ښوونځيو، اسلامي زده کړو بنسټونو او دارالمعلمينو لپاره په ګروپي ډول راټولې شوې، چې د تاييد وروسته د وېش په موخه د ولايتونو پوهنې رياستونو د فارغانو لپاره استول شوي او وېشل شوي دي.
- د شهادتنامو رياست له لوري، د ولايتونو پوهنې رياستونو او د کابل ښار پوهنې رياست په کچه د شهادتنامو ټولټال ٦٩,١۴١ سپينې پاڼې وېشل شوي دي.
- ټولټال ۱۳,۸۰۱ شهادتنامې د غوښتونکو لپاره تاييد شوي او د سنګي مهر په موخه د بهرنيو چارو وزارت ته استول شوې دي.
- د دولتي ښوونځيو، هېواد څخه بهر ښوونيزو بنسټونو او دارالمعلمينونو ټولټال ۵۱,۲۵۳ فارغانو نتايج د شهادتنامو په معلوماتي سيستم کې ثبت او اپلوډ شوې دي، چې له دې ډلې ٦,۳۰۷ د دولتي ښوونځيو، ۱,٦۹۱ د بهرنيو ښوونيزو بنسټونو او ٤۳,۲۵۵ د دارالمعلمينونو فارغانو نتايج دي.
- د درېيمې ربعې په اوږدو کې، ۲,۷۳۴ د کارموندنې فورمونه، ۸,۷۲۹ استعلامونه او ۲,۰۷۸ عريضې شهادتنامو د معلوماتي سيستم له لارې تصديق شوي او اړوندو غوښتونکو ته وېشل شوی دی.
- د نتايجو او شهادتنامو رياست د تخنيکي ټيم له لوري، د کابل ښار، کابل ولايت او د مدرسو او دارالحفاظونو د رياستونو ۲۸ تنو کارکوونکو لپاره د نتايجو جدولونو د تطبيق او تاييد په موخه يو ښوونيز او علمي سمينار په لاره اچول شوی دی.
- د نتايجو او شهادتنامو رياست د کارکوونکو لپاره د سايبري او فضايي خطرونو د پوهېدو او د تخنيکي مهارتونو د ترلاسه کولو په موخه يو روزنيز ورکشاپ د پوهنې وزارت د غونډو په تالار کې د تکنالوژۍ رياست له لوري داير شوی دی.

### ۷.٤ مالي او اداري

- د خصوصي ښوونځيو په سيستم کې ځينې نوي برخې (آپشنونه) زيات شوي دي، چې د سيستم د کارولو اسانتيا يې نوره هم زياته کړې ده. همدارنګه د اډمين (Admin) سيستم د ښوونکو د مسلکي پراختيا په رياست، د ساينس مرکز، د پلان او پاليسۍ او د داخلي پلټنې په رياستونو کې په برياليتوب سره تطبيق شوی دی.
- د پوهنې وزارت د موجودو سيستمونو د ساتنې او پاملرنې په موخه، د پوهنې وزارت د ادارو د ۳۰ معلوماتي سيستمونو تخنيکي ساتنه او څارنه پر وخت سره ترسره شوې ده او احتمالي ستونزې يې حل شوې دي.
- په ټوله کې د ټکنالوژۍ ۱٦۷ پايې وسايل (کمپيوټرونه، فوتوکاپي ماشينونه او پرنټرونه) ترميم او بيا فعال شوي دي.

- د پوهنې وزارت د غصب شوو جايدادونو له ډلې څخه د نيمروز، باميان، لوګر، ارزګان او ميدان وردک په ولايتونو کې ۵۵ مورده جايدادونه له غصب څخه خلاص شوي دي. سربېره پر دې، د مرکز او ولايتونو په کچه د ۱۹۵ غصب شوو جايدادونو دوسيې تعقيب شوي دي.
- د پوهنې ملکيت ۲۹۴ بابه کانتينونه د ميدان وردکو، نيمروز، پروان، زابل، خوست، کندز، پکتيکا، بادغيس، کاپيسا، غزني، لوګر، باميان، سمنګان او ارزګان په ولايتونو کې د کرايې په توګه په قرارداد ورکړل شوي دي او اسناد يې له ارزونې وروسته په سيستم کې ثبت شوي دي.
- د پوهنې ملکيت د ٦۵ جريبه او ۹ بسوې ځمکې قراردادونه د کابل، پکتيا، هرات، کندز، نيمروز او ننګرهار ولايتونو کې ترتيب شوي او اسناد يې له ارزونې وروسته په سيستم کې ثبت شوي دي. همدارنګه، د هېواد په ۱۴ ولايتونو کې د پوهنې وزارت د ښوونيزو او اداري مرکزونو د استفادې لپاره ۴۸۳ بابه شخصي ودانۍ په کرايه نيول شوي دي او اسناد يې له ارزونې وروسته په ډيټابېس کې ثبت شوي دي.
- د کارکوونکو د چارو شکايتونو ته د رسېدنې د لارښود مسوده او د شکايتونو د ثبت فورم ترتيب شوي دي.
- د مقررۍ او تبديلي سيستم له ۳۰ پړاوونو څخه ٦-۷ پړاوونو ته ساده شوی دی او ورته ځانګړی فورم ترتيب او ډيزاين شوی دی، د کارکوونکو د روزنې پړاو بشپړ شوی او دا مهال د ازمايښتي تطبيق په پړاو کې دی.
- د پوهنې وزارت د مرکزي او ولايتي کارکوونکو د سوانحو ۱۲,۲۲۰ ټوکه دوسيې ارزول شوي او اصلاح شوي دي.
- د پوهنې وزارت د مرکزي او ولايتي کارکوونکو له ډلې ۱,۱۲۳ تنه د تقاعد لپاره پېژندل شوي دي.
- د ولايتونو د اداري تشو بستونو له ډلې ۳۵۳ بستونه د راجستريشن سيستم له لارې پېژندل شوي او تثبيت شوي دي.
- د ولايتونو په کچه ٦۲۱ تنه اداري کارکوونکي استخدام شوي دي.
- د ان تي آی د ۱۱ قراردادي کارکوونکو د بستونو د دندو لايحې بيا کتل شوي او معياري شوي دي.
- د ۷ تنه ان تي ای قراردادي کارکوونکو د استخدام قراردادونه د اختياري بوديجې له لارې ترسره شوي دي.
- د ۳۳ ولايتونو پوهنې رياستونو په کچه د روزنيزو اړتياو د ارزونې بهير ترسره شوې، چې په پايله کې د اړوندو ادارو ۲۴۲۲ تنه کارکوونکي چې روزنې ته يې اړتيا درلوده، پېژندل شوي او تثبيت شوي دي.
- د ۴٦۵ مرکزي ادارو کارکوونکو، د ۱,۴۹۵ ولايتي ادارو کارکوونکو او د ۲۹ خدماتي کارکوونکو د کلني کړنو د ارزونې اسناد مطالعه او کتل شوي او پړاوونه يې بشپړ شوي دي.
- د دربيمې ربعې په اوږدو کې د شهادتنامو، جوازونو، دکانونو او د پوهنې وزارت د جايدادونو د کرايې او بېرته راستانه شويو پيسو له لارې ټولټال ۱۲,۷۱۸,۲۴۰ (دولس ميليونه, اووسوه اتلس زره, دوه سوه څلويښت) افغانۍ راټولې شوې، چې دې کار سره د ملي بوديجې کچه لوړه کړې ده.
- د پوهنې وزارت د موټرو لپاره د رسمي حوالې پر اساس ټولټال ۴۱,۹۳۱ ليتره ډيزل تېل او ۲٦,۴۴۲ ليتره پټرول تېل ويشل شوي دي. همدارنګه، د جنراتورونو د استعمال لپاره ۴۳,۵۸۱ ليټره ډيزل تېل د رسمي حوالې له لارې ويشل شوي دي.
- په ۸ ولايتونو کې د تېرو کلونو له جګړو څخه پاتې شوې ماينونو د خطرونو په اړه د پوهاوي ټولټال ٦٦ سيمينارونه د ښوونځيو ۱۴٦,۲۱۸ تنو زده کوونکو لپاره په لاره اچول شوي دي.
- د پوهنې وزارت عادي او پراختيايي بوديجه د اهدافو او فعاليتونو پر اساس په څلورو پروګرامونو (ښوونې او روزنې، اسلامي زده کړې، د سرچينو او ادارې معينيت، او د کيفيت تضمين) کې تنظيم شوې او د تطبيق په حال کې ده. د

دریيمې ربعې (میزان، عقرب او قوس میاشتې) په اوږدو کې د عادي بودیجې لګښت په اوسط ډول ۱۷.۸٪ سلنه او د پراختیایي بودیجې لګښت ۱۳.۷٪ سلنې ته رسېږي.

### ۷.۵ د وزارت مقام

- د کلنیو لومړیتوبونو د تطبیق څخه د ملاتړ د اسانتیا په موخه د ( اسلامي زده کړو، عمومي زده کړو او د کیفیت تضمین) پروګرامونو په کچه ۳ غونډې دایرې شوي او د هغې پایلې د پروګرامونو د مشرتابه سره شریکې شوي دي.
- د ۴۰ تنه مرکزي او ۱۸ تنه ولایتي کارکوونکو لپاره د تدارکاتو تفتیش، اداري جرمونو او سرغړونو، مالي تفتیش، حسابداري چارو او نړیوالو معیارونو په برخو کې شپږ ورځنۍ ښوونیز سیمینار په لاره اچول شوی دی.
- په ټولیز ډول ۲۴ بودیجوي، اداري او تعلیمي واحدونه، چې ۱۷ یې مرکزي او ۷ ولایتي واحدونه (هرات، هلمند، کندهار، پنجشیر، کاپیسا، تخار او ننګرهار) پکې شامل دي، تر بررسۍ او پلټنې لاندې نیول شوي دي او دوسیې یې تر دوران لاندې دي.
- په ټولیز ډول په مرکز او ولایتونو کې ۲۲ ځانګړې قضیې ثبت شوې دي؛ چې له دې جملې څخه ۸ مرکزي قضیې او ۱۴ ولایتي قضیې دي.
- د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ۳۹,٦٨١ تنه کارکوونکي او د پوهنې وزارت د مرکزي ادارو ۳,۰۰۰ تنه کارکوونکي د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون او د معاملاتو د نصاب په اړه تر روزنې لاندې نیول شوي دي.
- د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو له لوري د مبلغ امام د معرفي کولو، د کارکوونکو د صورت او سیرت، د دعوت او ارشاد د نصاب او د فرمانونو د تطبیق څخه د څارنې او کنټرول په موخه عملي څارنه تر سره شوې او اړونده مسؤلینو ته لازمې لارښوونې تر سره شوي دي.
- د دریيمې ربعې په اوږدو کې د ښوونیزو خدمتونو د لا ښه وړاندې کولو په موخه، د پوهنې وزارت او همکارو مؤسسو ترمنځ د همکارۍ ۸ هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي، چې له دې جملې څخه ۴ هوکړه لیکونه د مرکز او ۴ هوکړه لیکونه د ولایت په کچه دي.
- د هېواد څخه بهر آتشو د کارکوونکو او د مدرسو او دارالایتامونو د مسؤلینو د ذاتي چارو په اړه، چې ټولټال ۳۲۵ مورده جوړوي، اړینه او پر وخت همغږي ترسره شوې ده.
- په ایران او پاکستان هېوادونو کې د مېشتو کډوالو د ١٤٠ ښوونیززو سندونو پړاوونه بشپړ شوي او د اړوندو ادارو له لارې یې ستونزو ته اړینه او پر وخت رسېدنه تر سره شوې ده.
- د پوهنې وزارت د منسوبینو لپاره د کورنیو چارو او بهرنیو چارو محترمو وزارتونو څخه ۸ ټوکه پاسپورټونه غوښتل شوي دي.
- د پوهنې وزارت له مقاماتو سره د داخلي او بهرنیو مېلمنو ٦٠ رسمي لیدنې تنظیم او همغږې شوې دي.
- د پوهنې نظام د اساسي کمي او کیفي شاخصونو د محاسبې او تحلیل لپاره د معلوماتو د تشې د سند لومړنۍ نسخه چمتو شوې او د پراختیا په حال کې ده.
- ه دریمه ربعه کې، د پوهنې د استراتیژیک پلان د مهمو مفهومونو د تشریح سند بشپړ شوی دی.
- په دریمه ربعه کې، د پوهنې وزارت ستراتیژیک پلان د منظورۍ په موخه د ریاست الوزرا محترم مقام ته استول شوی دی.

- د ۱۴۰۴ کال د لومړیتوبونو د تطبیق څخه د څارنې د لارښود وروستۍ مسوده چمتو شوې او د نورو پړاوونو د بشپړولو لپاره د علمي شورا محترم ریاست ته استول شوې ده.
- د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو د حل لارښود مسوده چمتو شوې او د نورو پړاوونو د بشپړولو لپاره د علمي شورا محترم ریاست ته استول شوې ده.
- ۲۵٦ قطعې متحدالمال او انفرادي مکتوبونه تعقیب شوي دي.
- د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه راستول شوي ٤,۳۳۸ قطعې سندونه کارشناسي شوي او د نورو پړاوونو د بشپړولو او کړنو په موخه اړونده ادارو ته استول شوي دي.
- د مرکزي ریاستونو ۳,۰۲۱ قطعې سندونه د کارشناسۍ وروسته اړونده ادارو ته استول شوي دي.
- په دریمه ربعه کې، د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ٦,۰۹۱ قطعې وړاندیزونه د منظورۍ او حکم اخیستلو په موخه د پوهنې وزارت محترم مقام ته وړاندې شوي دي.
- د ۱۰ تنه ولایتي رئیسانو او د هغوی د ساتونکو د سفر سندونه د اداري پړاوونو د بشپړولو وروسته مرکز ته تنظیم شوي دي. همدارنګه د مرکزي ریاستونو د ۱۸۰ کارکوونکو سفرونه د سفرونو د تنظیم کمېټې له تایید وروسته ترسره شوي، او کارکوونکي د خپلو رسمي دندو د ترسره کولو لپاره بېلابېلو ولایتونو ته تللي دي.
- ۴ ټوکه د «عرفان» مجلې، ۴ ټوکه د «بخوان و بیندیش» مجلې او ۴ ټوکه د « د پوهنې اوونیزې» ډیزاین او د چاپ لپاره چمتو شوي دي.

## د تطبيقي ستونزو لنډيز

- د بوديجې په تصويب او تخصيص کې د ځنډ له امله، پلان شوي فعاليتونه پر ټاکلي وخت نه تطبيق کېږي.
- په ولايتي سفرونو کې د محدوديت له کبله، يو شمېر پلان شوي فعاليتونه په ځانګړي توګه د اسلامي زده کړو د څارنې او ارزونې چارې نه دي ترسره شوي او يا هم د ځنډ سره مخامخ دي.
- د تدارکاتي پروسو اوږدوالی او پېچلي پړاوونه ډېری وخت پر ټاکلي وخت د پلان شويو فعاليتونو او پروژو د تطبيق پر وړاندې د خنډ او ځنډ لامل ګرځي.
- په هغو سيمو کې چې د زده کړې څخه بې برخې ماشومان شتون لري د ښوونځيو د تأسيس او ارتقا له پاره د ښوونکو کم والی.
- د ښوونې او روزنې د اړتکل شويو اړتياوو او پلان شويو فعاليتونو په پرتله د ځانګړې شوې بوديجې کم والی.
- د تېرو کلونو د ودانيزو نيمه کاره پروژو د پاتې چارو د بشپړولو له پاره د بوديجې کم والی.
- د ښوونکو او علماو کرامو د ښار ګوټو له پاره د ځمکې د برابرولو په هکله د ښوونځيو او املاکو د ساتنې او څارنې رياست استول شويو مکتوبونو ته د زراعت محترم وزارت له خوا د ځواب نه ويل.
- د اسلامي زده کړو، سواد زده کړو او کليوالي مدرسو د درسي کتابونو د چاپ له پاره د بوديجې تخصيص نشتون.
- پر ټاکلي وخت د پوهنې وزارت د مجلو او اوونيزو د چاپ له پاره د قرار داد نه ترسره کېدل.
- د انټرنټي شبکو، برېښنا او برېښنايي اړيکو د وسايلو له پلوه د زابل، ارزګان، نورستان، غور او بادغيس ولايتونو د پوهنې رياستونه د ستونزو سره مخ دي چې له امله يې، ځينې وخت د مراسلاتو په برخه کې د مرکز سره اړيکې نه ټينګيږي.
- په مرکزي ادارو کې پر ټاکلي وخت د ښوونکو او مامورينو د سندونو او مکتوبونو د پړاوونو بشپړولو په موخه د يو شمېر ولايتونو د پوهنې رياستونو د استازو رسېدنه نه کېږي.
- د تدارکاتي پلان سره د ښوونې او روزنې د عملياتي پلان د فعاليتونو په ځانګړې توګه هغه فعاليتونه چې بوديجې ته اړتيا لري نه همغږي.
- د عملياتي پلان په جوړولو او شريکولو کې د ځنډ او د مرکز او ولايتونو په کچه د پښتو پلان د نشتوالي له امله د پلانونو په تطبيق او د راپور ورکولو په بهير کې د ځند لامل شوی دی.

## حل لارې او وړاندیزونه

- د پلان شویو فعالیتونو د تطبیق لپاره، وړاندیز کیږي تر څو د اړتیا وړ بودیجه تخصیص او په خپل وخت د اجرایي مسؤلینو په واک کې ورکړل شي، تر څو پلان شوي فعالیتونه بې له ځنډه او په غوره او مؤثره توګه تطبیق شي.
- وړاندیز کیږي چې د څارنیزو لېدنو د تر سره کولو په موخه دې د اړتیا وړ بودجه تخصیص او د ولایتي سفرونو منظوري دي په خپل وخت ورکړل شي.
- د پروژو په پلي کولو کې د اسانتیا، د آغېزمنتوب د زیاتوالي او پر وخت د تر سره کولو په موخه دې د تدارکاتو پروسې ساده شي.
- د ښوونځیو د ایجاد او لوړولو په موخه دې په تشکیل کې د ښوونکو بستونه زیات شي.
- • وړاندیز کیږي چې د عملیاتي پلان د اړتیاوو د بشپړې ارزونې پر بنسټ کافي بودیجه ځانګړې شي او هغو فعالیتونو ته لومړیتوب ورکړل شي چې د زده کونکو لوې شمېر تر پوښښ لاندې لري.
- وړاندیز کېږي چې اړونده چاراوکي د تېرو کلونو د نیمګړو ساختماني پروژو د پاتې کارونو بشپړولو لپاره اړینه بودیجه ځانګړې کړي او د همکارو مؤسسو تخنیکي او مالي ملاتړ راجلب کړي.
- وړاندیز کېږي چې د ښوونکو د ښارګوټي د جوړولو لپاره د ځمکې د برابرولو مسله د پوهنې وزارت، معینیت او یا هم د عملیاتي پلان د تعقیب تخنیکي کمیټې له لوري د کرنې او مالدارۍ وزارت سره تعقیب شي.
- د اسلامي زده کړو، کلیوالي مدرسو او سواد زده کړو د درسي کتابونو د اخیستلو، چاپ او وېش لپاره دې د اړتیا وړ بودیجه په پام کې ونیول شي.
- په تاکلي و خت دې د پوهنې د مجلو او اونیزو قرارداد د یو معیاري شرکت سره تر سره شي.
- د زابل، ارزګان، نورستان، غور او بادغیس ولایتونو ته دې بریښنا، انټرنیټ او ټولې بریښنایي وسیلې چمتو شي.
- په مرکزي دفترونو کې د ښوونکو او اړونده ریاستونو د مامورینو د اسنادو او مکتوبونو پراوونه باید ژر تر ژره بشپړ شي او د اړوندو مسؤلینو لخوا دې ورته ډېره پاملرنه وشي.
- • د عملیاتي پلان او تدارکاتي پلان ترمنځ دې اړینه او آغېزمنه همغږي رامنځته شي، په ځانګړې توګه د هغو فعالیتونو لپاره چې بودیجې ته اړتیا لري.
- د بودیجې او پلان ترمنځ د زیاتې همغږۍ د رامنځته کولو لپاره، وړاندیز کیږي چې د هر فعالیت لپاره د بودیجې تخصیص د وزارت په عملیاتي پلان کې د هغه فعالیت په ګډون پورې مشروط شي، تر څو په دې توګه د اجرایوي مسؤلینو ترمنځ د عملیاتي پلان اهمیت زیات شي او د یو جدي سند په توګه یې وکاروي.
- وړاندیز کېږي چې د عملیاتي پلان تصویب شوې نسخه دې په دوو ژبو (دري او پښتو) کې چمتو او د مالي کال په پیل کې دې په مرکزي او ولایتي کچه د اجرایوي مسؤلینو په واک کې ورکړل شي.

# مالي راپور

د ۱۴۰۴ مالي کال په پیل کې د پوهنې وزارت ټوله منظور شوې عادي بودیجه (۳۹,۴۹۸,۵۵۱,۹۵۳) (نهه دېرش میلیارده، څلور سوه او اته نوي میلیونه، پنځه سوه او یو پنځوس زره، نهه سوه او درې پنځوس) افغانۍ وه، چې د دویمې ربعې وروسته ۶۹,۲۸۲,۶۹۳ افغانۍ له فتحې څخه مخکې د عادي بودیجې د مقروضیاتو له درکه، ۳,۱۱۶,۴۴۰,۹۹۱ افغانۍ د کال د منځنۍ کتنې د بدلون له آمله او ۵۰۰,۰۰۰,۰۰۰ افغانۍ د کال د منځنۍ کتنې وروسته د امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم له مخې د مدرسو له پاره تعدیل شوې چې د هغه پر اساس د عادي بودیجې ټولیزه اندازه د درېیمې ربعې تر پایه پورې ۴۳,۱۸۴,۲۷۵,۶۳۷ افغانیو ته رسیږي .

د ۱۴۰۴ مالي کال په پیل کې د پوهنې وزارت ټوله منظور شوې پراختیایي بودیجه (۲۷۰,۲۹۷,۷۲۰) (دوه سوه اویا میلیونه، دوه سوه اووه نوي زره، اووه سوه او شل) افغانۍ وه چې دا اندازه بودیجه د کال د منځنۍ کتنې د بدلون له امله (۹۹,۳۶۲,۶۳۵) افغانۍ له فتحې څخه مخکې اختیاري پراختیایي پروژو د مقروضیاتو له درکه د سنبلې په میاشت کې او ۲۵,۹۵۵,۰۸۴ افغانۍ له فتحې څخه وړاندې د نړیوال بانک اړوند د غیر اختیاري پراختیایي پروژو د مقروضیاتو له بابته تعدیل شوې دي چې پرمټ یې د درېیمې ربعې تر پایه پورې د پراختیایي بودیجې ټول مقدار ۴۰۶,۲۸۲,۶۸۷ افغانیو ته رسیږي.

په لاندې جدول کې تر دې دمه د پلان مطابق د عادي او پراختیایي بودیجې د لګښت څرنګوالی وړاندې شوی:

| ربعه | عادي بودیجه | | | پراختیایي بودیجه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | په ربعه کې پلان شوې عادي بودیجه (په اعداد) | په ربعه کې مصرف شوې عادي بودیجه (په اعداد) | په ربعه کې مصرف شوې عادي بودیجه (په سلنه) | په ربعه کې پلان شوې پراختیایي بودیجه (په اعداد) | په ربعه کې مصرف شوې پراختیایي بودیجه (په اعداد) | په ربعه کې مصرف شوې پراختیایي بودیجه (په سلنه) |
| لومړۍ ربعه | ۹,۸۷۴,۶۳۷,۹۸۸ | ۱۱,۳۸۸,۶۸۰,۸۲۹ | ٪۲۹ | ۴۶,۱۰۶,۸۰۶ | ۲۲,۶۴۸,۱۳۲ | %۸ |
| دویمه ربعه | ۹,۸۷۴,۶۳۷,۹۸۸ | ۹,۳۵۵,۲۴۰۳۶۴ | %۲۳.۵ | ۱۵۰,۴۱۱,۵۵۴ | ۱۹,۳۱۴,۰۹۰ | %۳.۳ |
| درېیمه ربعه | ۱۱,۷۱۷,۴۹۹,۸۳۱ | ۹,۶۳۰,۳۸۵,۲۹۰ | %۱۷.۸ | ۱۸۳,۲۹۱,۲۲۱ | ۶۰,۶۲۷,۷۹۷ | %۱۳.۷ |
| څلورمه ربعه | ۱۱,۷۱۷,۴۹۹,۸۳۰ | ۰ | ۰ | ۲۶,۴۹۳,۱۰۶ | ۰ | ۰ |
| **مجموعه** | **۴۳,۱۸۴,۲۷۵,۶۳۷** | **۳۰,۳۷۴,۳۰۶,۴۸۳** | **۷۰.۳٪** | **۴۰۶,۳۰۲,۶۸۷** | **۱۰۲,۵۹۰,۰۱۹** | **٪۲۵** |

**الف: په درېیمه ربعه کې د عادي بودیجې د لګښت په سلنه کې د تو پیر لاملونه:**

۱. د کال د منځنۍ کتنې وړاندې د پوهنې وزارت له پاره د منظور شوې عادي بودیجې اندازه ۳۹.۴۹ میلیارده افغانۍ وه چې لګښت یې د هرې ربعې د فعالیتونو سره سم ۲۵٪ سلنه پلان شوې او د لومړۍ او دویمې ربعې په راپورونو کې د لګښتونو سلنه د کال د لومړنۍ منظور شوې بودیجې پر اساس محاسبه شوې وه چې په لومړۍ ربعه کې ۲۹٪ او په دویمه ربعه ۲۳.۵٪ سلنه راپور ورکړل شوی دی.

۲. د کال د منځنۍ کتنې وروسته ۳.۱ میلیارده افغانۍ په عادي بودیجه کې زیات شوي او د ټولې بودیجې اندازه ٤۳.۱۸ میلیارده افغانیو ته رسیږي چې له امله یې د لومړۍ او دویمې ربعې د لګښت سلنه چې د کال د لومړنۍ منظور شوې بودیجې (۳۹.٤۹ میلیارد افغانۍ) په اساس محاسبه شوې وه د اوسنۍ ټولې (٤۳.۱ میلیارد افغانۍ) بودیجې سره ورته والی ونلري. د ټولې اوسنۍ بودیجې پر مټ د لومړۍ او دویمې ربعې د لګښتونو د محاسبې سره، د لومړۍ ربعې د لګښت سلنه ۲٦.۳٪ او د دویمې ربعې د لګښت سلنه ۲۱.٦٪ کېږي چې ۲.۷٪ سلنه توپیر په لومړۍ ربعه او ۱.۹٪ سلنه توپیر د دویمې ربعې په راپور کې منځته راځي.
له دې امله د یادې ستونزې د حل له پاره، د دریمې ربعې لګښت چې ۲۲٪ سلنه کېږي د لومړۍ او دویمې ربعې ۲.۷ او ۱.۹ توپیرونه ورڅخه تفریق شول ترڅو د عادي بودیجې د لګښت ټوله سلنه چې ۷۰.۳ ٪ کېږي په لاس راشي.

**ب: په دریمه ربعه کې د پراختیایي بودیجې په لګښت کې د توپیر لاملونه:**

۱. د کال په منځنۍ کتنه کې د پراختیایي بودیجې اندازه له ۲۷۰ میلیونه افغانیو څخه ٤۰٦ میلیونه افغانیو لوړوالی موند چې د لومړۍ او دویمې ربعې د لګښت سلنه د کال د لومړنۍ منظور شوې بودیجې پر اساس محاسبه شوې وه، مګر د اوسنۍ بودیجې سره په دواړو لومړۍ او دویمې ربعې کې د ۱.۳٪ سلنه توپیر شتون لري، له دې امله د دریمې ربعې د لګښت سلنې (۱۵٪) د توپیر د حل په موخه یاد توپیر د هغې څخه تفریق کوو چې ۱۳.۷٪ کېږي ترڅو د ټولیز لګښت د سلنې سره چې ۲۵٪ دی سمون ومومي.
۲. له فتحې څخه وړاندې د مقروضیتونو له پاره اختیاري پراختیایي بودیجه شاوخوا ۹۹ میلیونه افغانۍ وه چې د مالیې محترم وزارت لخوا د دویمې ربعې په مالي پلان کې شامله شوې وه، دا چې د دویمې ربعې راپور مخکې لېږل شوی وه، له فتحې څخه مخکې د مقروضیتونو ۹۹ میلیونو بودیجه د دریمې ربعې په پلان کې شامله شوه.
۳. پراختیایي پروژې د پلان سره سم د نه پرمختګ او لګښت لاملونه:
د ملي بودیجې په توشیح کې ځنډ، نوي بنسټیزې پروژې د کور او ښار جوړولو وزارت تایید اخېستو ته اړتیا لري چې پړاوونه یې وخت نیسي. د پراختیایي بودیجې د مقروضیتونو ورکړه له دې کبله چې ولایتي ورکړه هم له مرکز څخه تر سره کېږي نو په حمایوي سندونو کې د ستونزو حل هم وخت ته اړتیا لري.